مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد الله صافی ۲۰۱۹/۰۱/۲۶

# سیاسي تګلاره

## د هیواد سیاسی حالاتو ته لنډه کتنه:

که د سولې د خبرو بهیر وڅارو، نو څرګندیږي چه دوه سوالونه د مذاکرو اساسي مضمون جوړوي:

۱- په سیمه کې د امریکې او ناټو سیاسي ـ نظامي حضور.
۲- په سوله کې د ګاونډیو او د سیمې زبرځواکونو ځان ځاني ګټې

**امریکه:**

څرګنده ده ، چه په ۲۰۰۱ کال کې امریکا او ناټو د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د اجازه نامې (مندات) سره په افغانستان کې د القاعدې پر تروریستی سازمان او د طالبانو پر رژیم، چه د القاعدې مشرته یې پناه ورکړې وه، برید وکړ. امریکایي او اروپایي لښکرو القاعده د افغانستان څخه وویستله، د طالبانو رژیم یې نسکور کړ، پخواني جهادي مشرانو ته یې دولت پلاس ورکړ، نظامي هډې یې ځای پرځای کړې، په دموکراتیکو اصلاحاتو یې پیل وکړ، د بیارغوني د پروګرامونو د پلي کولو په موخه یې ملیاردونه ډالر راوړل. خو خارجي مرستې د جهادي مشرانو او دولتي لوړپوړي مامورانو (تکنو کراټانو) له خوا لوټ شوې، د بیا رغوني پلانونه په ټپه ودریدل، ډیر ژر طالب جنګیالي راپیداشول، د اشغالګرو څخه د وطن د آزادولو او د اسلام په خاطر د مقدس جهاد د شعارونو سره (لکه ۳۹ کاله دمخه) د جنګ لمبې له هرې خوا بلې شوې. د افغانستان خلکو، په تیره د پښتني سیمو، د بمونو د باران څخه دردیدلي ولس، د جنګیالیو ملا وتړله. لکه پخوا په شان، د عربي هیوادو پیسو او د پاکستان هراړخیزه مرستو سره، طالبان پر نیمایي خاوره مسلط شول، او امریکایان یې خبرو ته اړ کړل.

پوښتنه پیدا کیږی چه امریکا د خپلو سربازانو دومره تلفات او سترمالي تاوان د دې د پاره ځغمي چه د تروریزم او مخدره موادو سره مبارزه و کړي؟ که نور ستراتژیک هدف لري؟

**نورهډ فونه دادي:**

- امریکې د پاره زمونږ هیواد یو ښه مورچل دی، چه د هغه څخه خپلو ستراتیژیکو حریفانو لکه روس چین او ایران ته سنګر ونیسي، نظامي هډې، د کشف وسایل د جاسوسی ځالې، لکه په اسرائیلو او پاکستان کې دلته تأسیس کړي؛
- د امریکې او اروپایي هیوادو د صنعتي تولیداتو د پلورلو پلانونه، د پاکستان سمندري بندرونو څخه، بیا د افغانستان د شمالي دروازوله لیارې د منځنی آسیا پراخو تجارتي مصرفي بازارونو ته لیږدونه تر ټولو ارزانه او ګټوره تجارتي ستراتیژي ده.
- د افغانستان تر ځمکې لاندې شتمنی، قیمتي کمیابه صنعتي معدنونه ، د ټولو بدایو هیوادو پام جلبوي. خو په افغانستان کې د نظامي سیاسی حضور په حالت کې به دا ټوکې په آسانی لاس ته راشي.

ښکاره ده، چه د ګلوبالیزم سیاست، د امریکې بې رقیبه واکمنی، په نړۍ کې مخ په زوال ده. د بل پلوه، د امریکې او پاکستان تر مینځ د افغانستان پر سر پیدا شوی سیاسي تضاد، د ناټو هیوادو سره د ټرامپ کبرجن برخورد، او د ترکیې سره د امریکې د مناسباتو خړ پړتیا، سبب ګرځیدلي دي چه امریکه په دې سیمه کې یواځې پاته شي. که دا شرایط امریکه د یوې عادلانه سولې د راوستلو په لوري تیل وهي، او د افغانستان د ملي ګټوپه پام کې نیولو سره ، یاني؛ ځمکنی بشپړتیا، ملي حاکمیت، د قوي مرکزي دولت ساتنه، د اساسي قانون حکومت د شتون سره صادقانه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ګامونه پورته کړي، نو زمونږ وطن ته به سوله او ثبات راولي او ځانته عزت. او که امریکه بیا د پاکستان سره غاړه په غاړه شي او (لکه ۲۷ کاله د مخه) هرڅه پاکستان ته وسپاري، دا به یوه نحسه سناریو وي.

**ګاونډیان:**

له بده مرغه، زمونږ د ګاونډیانو، په تیره د پاکستان او ایران دولتي سیاست او امنیتي ارګانونوهڅې تل زمونږ د دولت او ملي حاکمیت د کمزورتیا په موخه پکارول شوي دي.

- پاکستان او ایران، خپلې ګټې زمونږ د ضعیف حاکمیت په وجود کې، د دوی تر اثر لاندې چارواکو په شتون کې ، په مذهبي رادیکالیزم، افراطیت اخته حزبونو کې، د ملي نفاق او محلي کړکیچونو سره لاس په ګریوان افغانستان کې ګوري.
- دوی، ته بي تعلیمه، بي سواده، د صنعتي او تولیدي موسسو نه تش افعانستان پکار دی، چه د دوی د تولیداتو استعمالونکی او مصرفي، بیرته پاته هیواد اوسو. همدا وجه ده چه دا څلوښت کاله ، د دوی له خوا روزل شوي، استول شوي جنګي ډلې، ښونځې، پلونه، سرکونه او دولتي پروژې، یاني بنستیزې بناوې (انفرا ستروکتور) ویجاړوي، فني کدرونه، آن ښوونکي وژني.
- د پاکستان دولت تل د افغانستان د جنګي حالاتو څخه ګټه پورته کړي ده. د شوروي سره د جنګ مدیریت او د جهادي حزبونو سازماني چارې تر ډیر حده د آی اس آی په لاس کې وې. د پریمانه مالي مرستو څخه چه َعرب شیخانو او غربي هیوادونو د جهادیانو په نامه استولي، پاکستان غوړه برخه لرله. جنګ، افغانستان خلکوته غریبي او ورانی اوپاکستانیانو ته آبادي او ثروت ډالی کړ.
- پاکستان د تروریزم سره د مبارزې په درواغجنه پلمه د امریکي او اروپا څخه، او د جهاد سره د مرستي په حیله د سعودي او شیخانو نه په ملیاردونو ډالر تر لاسه کول. کله چه امریکي او نړیوال بانک، دا عاید وربانديِ بند کړل، پاکستان د امریکي مخالف لوري، روس او چین ته مخه کړه او طالبانو سره یې د امریکي پر خلاف جنګي مرستي چټکې کړې. اوس، پاکستان د مینځګړیتوب تلوار لري، څو په افغاني سوله کې خپلې دولتي ګټې تر لاسه کړي. دا ګټې به څه وي؟ دا د جهاني بانک نه د کریډت د اخیستو د بندش لیرې کول دي، دا د طالبانو پر سر تجارت دی، چه ګني پاکستان به یې مذاکراتو ته حاضر کاندي، د طالبانو سازمانونه به سوله ایز ژوند ته عیار کړي، احتمالاً د دوی وسلي به په بیه واخلي. د افغاني دولت نورو خواوو سره به د طالبانو د اړیکو د کړکیچونو د حل صلاحیت تر لاسه کړي، ( یاني د سولې مدیریت ترلاسه کولو هڅه)، او په دې ډول به راتلونکي بین الافغاني سیستم کې خپله اغیزه وساتي. د دوی د مشرانو وروستی مثبتي ویناوې د دې اټکل پخلی بللی شو.

د یادوني وړ بولم، چه د اشغال او یا حضور د کلمو د استعمال پر مبنا زیات روښانفکره تحلیلګران سره مخالف دي. هغه چه د اشغال د کلمي تذکر مطلق ګڼي، او د هغې پر ځای د حضور د کلمي استعمال خیانت بولي اشتباه کوي، ځکه چه:

- د حضور او یا اشغال د کلمي استعمال موجوده واقعیت ته بدلون نه ورکوي، بلکه د واقعیت تفسیر دی، چه هر یو یې د خپلې ارزوني سره کوي. یوه خوا وایي «وطن نیول شوی، دولت د اشغالګرو ګوډاګی دی، د دولت کارکونکي د ښکیلاک مزدوران دي، سیاسي ګوندونه اواجتماعي فعالین د ګوډاګي دولت جیره خواره دي ، پارلمان هم د امریکي لاسپوڅي دي، هر ډول ټاکني باید بایکوټ شي، هره منفعتي انکشافي پروژه د اشغال دسیسه ده»، آن که کوم پاک شخصیت د خپل استعداد او یا ولسي اعتبار په مټ په سیستم کي سر راپورته کړي هغه هم پلورل شوی دی، او داسي نوري سپکي سپوری د دولت او د دولتي کارکونکو په آدرس!

داسي لیکني د یوافراطي او انحصاري تفکر نښانه ده. دې تحلیلګرانو ته ښایي داشغال پر ضد د آتشینو مقالو په څنګ کې، لږ څه د سبا ورځې په باب، د کمزوره کړی شوي افغاني دولت په وجود کې، د پاکستان او ایران د شومو پلانونو د خطرونو او د رنګارنګ رادیکال، افراطي مذهبي ډلو د نفوذ د مسؤلیت په نظر کې نیولو سره لیکني وکړي.

- د انصاف نه لیرې خبره ده، چه ټولو هغو وطنوالو ته، کوم چه دولت کې ملکي او نظامي دندې ترسره کوي، د اشغال جیره خورو خطاب وشي. هغه چه په سختو نا امنه شرایطوکې، د خوار ژوند د ځملوسره وطن نه دی پرې ایښی، هغه چه د تروریزم او مذهبي افراطي ډلو، د اپینو د قاچاقبرانو په مقابله کې، د افغانستان د سرحدونو د ساتني په سنګرونو کې قرباني ورکوي، هغو ته د ښکیلاک مزدوران وواېو. آیا دا عادلانه خبره ده؟ څه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

قضاوت کوی، داردو افسران، کوم چه پوهیږي، د ملي اردو مصرف امریکایان ورکوي، یا انجینر چه د امریکایانو په پیسو سرک جوړوي، باید اشغال ووایي یا حضور؟

- لوټماران او اختلاس ګران ، د بیت المال او د خلکو د جایدادونو غاصبین خو د ګوتو په شمار دي،هغوی ځان د رژیم مزدوران نه بولي، هغوی ځان ته د رژیم باداران وایي. اکثرأ همدا باداران دي، چه خولې یې د دولت په «غوړدسترخوان کې»، لاسونه یې د خارجیانو په «کندو کې» او پښې یې په «مقاومت جبهې» او راز راز اپوزیسیوني سازمانونو کې مشغولې دي، د دولت او «اشغال» پر ضد تند او تیز شعارونه هم ورکوي.
- له بده مرغه ټولې هغه خواوې چه زمرنږ د دولت کمزوری غواړي، غرضي او ذینفع حوانب دي، چه په خودمختاره سیمو د افغانستان ویشل او په شمال او جنوب د تجزیې خیالونه لري، یا د پاکستان امنیتي اورګانونه دي، چه د ۱۸ کلو پخوا په شان، افغانستان کې د قادیاني، وهابي، القاعده او نورو افراطي، تروریستي ځالو احیاکول غواړي، ددې ټولو موخه د افغاني دولت کمزورتیا ده.

نو ځکه متعهدو وطن پالو روښان اندو ځیرونکو، دقلم خاوندانو ته پکارده، چه د سیاسي تګلارې په غوره کولو او چیو شعارونو په طرح کې، د روانو پیښو په اټکل کې د وطن او د خلکو راتلونکې په دقیقه توګه په پام کې ولري.

پای

۱۳۹۷/۱۰/۳ (۲۰۱۹/۰۱/۲۲) .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ